مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۴/۱۳

# خـرافات

برهان قاطع د (خرافات) په حاشیه کې لیکي: " خرافة کئمامة... د عذرة قبیلې یو پریزاد و او له ښاپېریو به یې کیسې رانقلولې. خلکو به دا خبرې دروغ ګڼلې او ویل به یې دا د شپې دروغجنې کیسې دي ".
خرافات دروغجنو باورونو ته وایي. خو کیسه دومره ساده نه ده. خرافات - له بده مرغه - د انسانانو پر ژوند بېخي زیات اغېز لري او په تېره بیا د روسته پاتې ټولنو د ټولنیز ژوند، واک، اقتصاد، روزنې او ځلند برخلیک خرافاتي باورنه ټاکي .
د خرافاتو ګواښمنه ځانګړنه دا ده، چې پر خرافاتو باوري وګړي یا بشري ټولګې پر دې پوهېدلای نه شي چې پر خرافاتو باور لري. دوی د خرافاتو د پېژندلو او کفر تر منځ په برید او بېلتون نه پوهېږي .
ساینس، تجربي علوم، ټولنیزې پوهنې (ارواپوهنه، ټولنپوهنه او بشرپېژندنه) کړلای شي خرافات راوپېژني. ډېرو ټولنو ځانونه د دغو پوهنو په مټ له خرافاتو ژغورلي .
خرافات د بشریت لرغوني ملګري او په ټوله نړۍ کې شته .
ګڼ ویشونه لري، خو یو ډول ماهیوي ویش یې دا دی:

### ۱ ـ فوسیلي خرافات:

دا د خورا لرغونې (اساطیري) زمانې خرافي باورونه دي، چې د فوسیلونو په شان راپاتې دي. اوږدو زمانو پر دغو خرافاتو د ډېرو نوي نوي پوړونه جوړ کړي دي. ګڼ خداییز ادیان یې یوه بېلګه ده. له خورا لرغونې زمانې انسانانو لمر، اسمان، تالانده، سیندونه، اور، توپان، سمندر... او داسې نور طبیعي ځواکونه خدایان ګڼل او ګڼ خدایګوتي (ارباب الانواع ) یې پربښتل. هره هغه نښه چې اوس هم د انسانانو په ژوند کې له دغو لرغونیو عقیدو پاتې وي، د هغو ادیانو خرافي فوسیلونه دي.

### ۲ ـ د پوهېدو په تکل راپنځېدلي خرافات:

هوښمن انسان له پیله غوښتل پوه شي، چې: ولې لمر راخېژي او پرېوځي؟ ولې باد لګېږي؟ ولې توپان کېږي؟ ولې زلزله پېښېږي؟ ولې انسان مري؟
دغو پوښتنو ته د ځواب موندلو په هڅه کې د سمو علمي تجربو ترڅنګ، ډېرځله انسان خپلو خیالونو او تصوراتو په ناسم لوري هم بیولی او خرافاتي باورونه یې پنځولي دي. یوه بېلګه یې د غوایي پر ښکر د زمکې سپرول دي. انسان نه پوهېده، چې ولې زلزله کېږي؟ تخییل دې باور ته ورساوه، چې زمکه د یوه غوایي په ښکر ولاړه ده او چې غویی سر وښوروي، زلزله کېږي .
علم دا باورونه له منځه یووړل، روستنیو انسانانو د زلزلې طبیعي لاملونه وپېژندل او د غویي افسانه دروغ شوه، خو په ځینو ټولنو کې چې د غویي افسانه په دیني باور بدله شوې وه، خرافات د عقیدې برخه شول او وپایېدل.

### ۳ ـ مصنوعي خرافات (عقل پنځولي خرافات):

دا تر ټولو ګواښمن خرافات دي. داسې نه ده، چې خرافات تل له عقل سره په ټکر کې دي، ډېر ځله پخپله عقل خرافات راپنځولي دي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د تاریخ په اوږدو کې د ګڼو دینونو او واکمنو پلویانو د خپلو بادارانو د کراماتو په اړه افسانې جوړې کړې دي. د داسې خرافاتو لپاره مقدس متون پنځول شوي دي، خوبونه لیدل شوي دي، غیبي غږونه اورېدل شوي دي، چا خدایان په خوب لیدلي دي او چا د خدای غوره بندګان. چا یو کس لیدلی چې پر دیوال سپور دی او دیوال ترې لاندې روان دی، څوک پر اوبو روان وي، چا ته له اسمانه غوښې او کبابونه راځي او داسې نور ...

دغه خرافات ټل تولیدیږي او تر هغو به راپنځیږي، چې انسانان د سیاسي قدرت، اقتصادي ګټې او له ځانه د نورو د وېرولو غریزو او غوښتنو ته له دغو لارو رسېدلای شي .

تر هغو چې تش په نامه مقدس بنیادمان ساده او خوشباوره انسانان د خرافاتو د پنځولو په مټ زبېښلای (استثمارولای) شي، تر هغو به د سیاسي عقل په مرسته خرافات راپنځول کیږي .

پر حقایقو پوهېدل خرافات توږي. طبیعت پېژندل، ساینس، عصري زدکړې، پر پوهنه او پوهونه د ښځمنو سنبالتیا، ټولنیزې پوهنې، روښانتیا او ویښتیا د خرافاتو اغېز او واکمني راکموي .

ځکه خو د خرافاتو پنځوونکي (تش په نامه مقدس بنیادمان) له پوهنې ډارېږي. پوهنه د خرافي واکمنیو بنسټونه وررړنګوي .

هر څوک چې له ښوونځي، پوهنې، ساینس، روښانتیا او ویښتیا ډارېدل، همدوی د خرافاتو خدایګوټي دي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ